مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۸/۰۱

# د فکر کلیشې

په دې نامه د استاد اسدالله غضنفر یوه مقاله مې ولوسته. استاد وايي: ((زموږ لیکنې، زموږ ویناوې او زموږ شننې تر ډېره حده له فکري کلیشو رغېدلې دي. د کلیشې ځانګړنه دا ده، چې په ذهن کې چمتو او تیاره وي، بې زحمته راپادېږي او بې له دې چې بیا کتنه ورته وکړو، تکراروويي. خو د واقعي فکر ځانګړنه دا ده چې د ژوند په ځبر شېبه په شېبه نورېږي، غوړېږي، مراوې کېږي او ځای نویو فکرونو ته ورکوي.))
دې مقالې زما پام د فکري کلیشو بلې خوا ته واړاوه. کله چې په افغانستان کې پوهنتون جوړ شو؛ نو استادان مجبور شول، چې درسي مواد ورته برابر کړي. ځنګه چې زموږ اکثرو استادانو له اروپايي ژبو سره نه و اشنا؛ نو دا يې بنه وګڼله، چې له عربي ژبې کار واخلي. د طب په پوهنځيو کې تر اوسه هم د هماغو ژباړل شویو کتابونو پانې اوړې رااوړي. دې کار محصلانو ته سخت زیان رسولی دی، ځینې مضمونه يې ورته دومره ګران کړي دي، چې دوی درسونه توتیوار حافظې ته سپاري او تر ډېره حده پر مانا يې نه پوهېږي.
اناتومي د طب په اول صنف کې تدریسېږي. دا د بدن ټول ساختمانونه تشریح کوي، هر هډوکی، هره عضله او هر داخلي غړی په ډېرو جزیاتو سره بیانوي. مثلاً د یوه هډوکي په یوه برخه کې یو ډېر کوچنی سوری دی، یا یوه وړه کرښه ده، دا هر څه خپل نومونه لري. نومونه په لاتین دي او ژباړه يې عربي. افغان محصل ته، چې نه په لاتین پوهېږي نه په عربي، ډېره ګرانه ده، چې دا بې مانا نومونه زده کړي. مثلاً سوري ته په لاتین کې foramen وايي استادانو ورسره ((ثقبه)) لیکې ده. یو استاد هم پیدا نه شو، چې د دې ثقبې پر ځای ((سوری)) ولیکي، ((اوعیه)) په ((رګ)) بدل کړي او ((علوي)) په ((پورتني)) واړوي.
نژدې شل کاله پخوا (۱۳۶۸) په فروشګاه هوټل کې زما د یوه انډیوال د خور واده و. د نکاح مراسمو ته ورغلو. ملا شاهدان وروغښتل. پارسیوان ملایان له شاهدانو څخه داسې پوښتنې کوي:
_ از کجا امدي؟ (له کوم ځایه راغلی يې؟)
شاهد باید ووايي: از شهر عدالت. (دعدالت له ښاره)
_ چې اوردي؟ (څه دې راوړي دي؟)
شاهد فوراً وايي: حکم وکالت. (د وکالت حکم)
_ بالای کې؟ (پر چا باندې؟)
_ بالای احمد. (پر احمد باندې)
بیا نو ملا ورته وايي چې شهادت دې بیان کړه. شاهدان په خپل وار سره دغه خبرې کوي: ((اشهد و شاهدي میدهم از برای خدا، نه از برای ریا، شنیدم از زبان (بي بي ...) که وکیل شرعي مهر و نفس خود (فلانی) را تعین کرده است، تا به نکاح صحیح شرعي به جوان حاضر و اماده بدهد))
یو شاهد همدا زما ملګری و. دی په کوم شي پسې لاندې تللی و. څوک ورپسې ورغلل، دی يې راوست. ملا له دود سره سم ځنې وپوښتل: از کجا امدي؟
هغه وارخطا وویل: از پایان. (له لاندې څخه)
زموږ اکثر نالوستي خلک د دغو خبرو پر مانا نه پوهېږي. دوی دغه خبرې د توتیانو په څېر زده کوي او تکراروي يې. کله کله داسې ټوکه هم وشي، چې کلمې سره وروسته وړاندې ووايي. مثلاً وايي: ((اشهد و شاهدي میدهم از برای ریا، نه از برای خدا))
زموږ پر قضايي چارو هم عربي اصطلاحات مسلط دي. زموږ ملایان او قاضیان ځکه دغه چارې سختې کړې دي، چې که اسانې شي او د خلکو په ژبه شي، بیا هر څوک پرې پوهېږي او د دوی اهمیت وربانډې کمېږي. ګومان کوم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاکترانو ته به هم دا دود له ملايانو په ميراث پاتي وي. ځکه خو دوی د کولمي پر ويلو شرمېږي او د هغي پر ځای ((امعا)) کاروي.
استاد غضنفر په يوه بله مقاله کي وايي: ((موږ په پېړيو پېړيو، تر ډېره حده، علم د علم لپاره زده کړی دی؛ خو اروپايانو علم ته د داسي شي په سترګه وکتل چي په ژوند کي بايد پکار راشي؛ نو ترقي يې وکړه.))
د استاد دغه خبره هم د طب پر کتابونو صدق کوي. ايا په دومره شد ومد د اناټومي زده کول به د هر ډاکتر په درد ولګېږي؟ موږ چي د طب په څلورم صنف کي داخله مضمون لوست، پوښتنه مو وکړه: استاده! له دومره مشرح اناټومي څخه په عمل کي څه استفاده هم کېږي که نه؟
هغه وويل: نه بابا همدومره پوه شئ چي دا منديلا ده دا مکزيلا.
پاسنۍ ژامي ته په لاتين کي مکزيلا او لاندنۍ ته يې منديبولا وايي. د داخله استاد په حافظه کي ان د دغو غټو ساختمانانو نومونه هم نه وو پاتي؛ ځکه خو منديبولا يې منديلا کړه. فکر کوم چي ان د جراحانو لپاره هم دومره مشرح اناټومي په درد نه لګېږي.
د طب يو بل مضمون، چي د محصلانو زړونه يې ورخوږين کړي دي، پتالوژي ده. په يوه سمستر کي عمومي او په بل کي خصوصي پتالوژي لوستل کېږي. دا د ټولو مرضونو په باب معلومات دي. خصوصي پتالوژي د هرې ناروغی ميکروسکوپيك تغييرات بيانوي. دغه ميکروسکوپيك تغييرات په پرمخ تللو لابراتوارونو کي ليدل کېدای شي، چي دا بيا ځان ته جلا مسلك دی؛ خو نورو ډاکترانو ته په عملي چارو کي د ستني په اندازه هم ګټه نه رسوي. دغه مضمون نو ماشاالله يو داسي پوهاند استاد راتدريساوه، چي د اخلاقو نمونه و. يوه ورځ يې د لکچر په ترڅ کي يوه هلك ته پام شو، چي موسك دی. ده د هندي فلمونو د بدمعاشانو غونډې، چي د فلم هلك يې راګير کړی وي، يوه شېبه په زوره وخندل، بيا يې وويل: ((که په امتحان کي مي دغه خنداوې په ژړاوو بدلي نه کړې، بيا راته استاد مه وايئ))
د طب استادان هېڅ کله پر دې فکر نه دی کړی، چي خپل محصل ته دغه چل وروښيي، چي له کوما مريض سره څه ډول چلند وکړي؟ هغه مريض ته چي په شاك کي دی، بايد کوم ډول معايني وليکو؟
ګومان کوم، چي د نورو پوهنځيو محصلان به هم ورته ستونزې ولري. کېدای شي په هر پوهنځي کي ډېر غير ضروري شيان تدريس شي؛ خو هغه څه، چي په عملي ژوند کي په درد لګېږي، له پامه غورځول شوي دي.

۱۳۸۸،۰۷،۲۴


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ